# د خوشحال بابا يو تلميحاتي شعر

# Khushal Khan Khattak a Poet.

**Dr.Ali Khil Daryab.**

**Abstract:** The term “MALKHI” which has been used in the poet of Khushhal Khan Khattak, was not actually used for its original meaning, but was used for reference.
If the person is unaware of the event concerned to it so he will be unable to perceive this poet entirely. The term which has been used in this poet for reference it is mandatory to comprehend its literal meaning along with its reference, because it is very important to know the event which is related to the term that has been used for reference. Keeping all this in view, this research paper has been authored.

هر زاهد چې زهد واخلي بې مرشده
د خوشحال ختټك په پوهه تش ملخی دی (11)

په دغه شعر کښې خوشحال بابا د یو زاهد د تزکیۀ نفس او روحاني تطهیر دپاره د مرشد اهمیت په ګوته کړی دی د دې حقیقت سپیناوی یې کړی دی. چې د زاهد زهد هله کارګر دی چې د مرشد د لارښونې روح او سرۀ ولري. د دې برعکس کوم زاهد چې د مرشد نه بغیر د زهد او تقوٰی لارې غوڅوي نو دغه زهد بې کاره او دغه زاهد "ملخی" دی.

ملخ، ملخی یا املخ "یوه معروفه او مشهور پرنده ده. عربۍ کښې د ملخ واحد دپاره "جراده" لفظ پکارولی شي. چې په نر او ماده دواړو یې اطلاق کیږي"(٢).

په قرآن کښې د ملخ ذکر په سورة اعراف او سورة القمر کښې راغلی دی"(3).

امام دمېري رح فرمائي چې: "د ملخ لاړې زهر قاتل دي"(4)

دغه رنګه امام قرطبي لیکي: "ملخ ډېر مضر حشره ده. د ونو پاڼې خوري، اوځینې وخت خو مېوو او فصلونو ته دومره زیان رسوي چې د اقتصادي بدحالۍ باعث ګرځي."(٥).

د سر عربي پوهان محمد بن احمد خیال دی چې: "ملخان ډلې ډلې ګرځي او د خپل مشر منقاد وي"(6).

لوئ مذهبي سکالر علامه عبدالسلام د ملخ د ذوکړې په حقله لیکلي دي چې:

"ملخان د هغې ختمې نه پیدا شوي دي کومه چې د حضرت آدم علیه السلام نه زیاتې شوې وه"(7).

ولې په دغه شعر کښې د خوشحال بابا اشاره دغې حشرې یا پرندې ته نۀ ده بلکې دې شعر کښې ستر خوشحال "ملخی" د تلمیح په توګه راوړی دی.

تلمیح په لغت کښې د لمح نه مشتق دی چې معنٰی یې د نظر اوچتول، چا ته په غلا کتل یا په څه څېز سرسري نظر غورځول دي"(8).

ولې په ادبي اصطلاح کښې تلمیح د علم بدیع سره تعلق لري. او هرکله چې یو ویناوال په خپل کلام کښې شعر یا خطبه کښې یو مشهور مثال قېمتي شعر یا یوې معروفې قصې ته اشاره وکړي. او دغه اشاره وروسته د یو علامت رنګ واخلي. نو دې ته صنعت تلمیح ویلی شي"(9).

د عربي ادبیاتو لوړ لیکوال السید احمد الهاشمي د دغه بره تعریف سره دا خبره زیاتوي چې: "په اشعارو کښې یوې مشهورې واقعې یا متل ته داسې اشاره کول چې پوره خبره و نۀ کړي په دې اعتماد چې نوره قصه مخاطب ته خپله معلومه ده"(10).

او د بحر الفصاحت مصنف لیکي چې: "که دغه واقعه قاري یا سامع ته معلومه نۀ وي نو بیا هغه د دغه کلام یا شعر په مفهوم او معنا نۀ رسي"(11).

اوس که مونږ د خوشحال بابا ذکر شوي شعر ته لږ ځیر شو نو دا خبره به را ډاګې ته شي چې کوم لوستونکی د "ملخي" د مشهورې او معروفې اولسي قصې نه خبر نۀ وي. نو هغوئ به د دغه شعر د ملخي نه هم هغه عامه حشره "ملخ" مراد اخلي. حالانکې په داسې صورت کښې به د ستر خوشحال د شعر معنا ډېره رغې، او سطحي را برڅېره شي او په شعر کښې د پرتو مطالبو سره به انصاف و نۀ کړی شي. ځکه نو ضروري ګڼم چې هغه مشهوره اولسي واقعه د لوستونکو په وړاندې کښېږدم. د کومې واقعې په اساس چې خوشحال بابا دغه شعر ویلی دی او د کومې واقعې د خبرېدو نه پس چې قاري یا سامع دې شعر د روح ژورو ته کوزېدلای شي. او په مفهوم یې رسېدلای شي.

وایي چې په لرغوني وختونو کښې یو خودساخته او بناوټي زاهد ژوند کولو. د دغه زاهد فطرت د موذي ؤ. د دنیا ټك یې نۀ کوو. ښځه په ښځه اړولې به ناست ؤ. تیاره به یې خوړه. د ښځې او خاوند به عموماً په دغه خبره شر ؤ. چې ته کور ناست یې او زۀ ښځه ذات پردې مزدوري کوم. او ته یې د درستې نۀ ماتوې. دۀ به ویل زه بزرګ یم. بزرګ.... د بزرګانو څه کار دی چې د دنیا په

کـارونو یـې لاس ککـړ وي. پـه دې خبـره بـه یـې ښـځه لاد سـوله ووتـه، ځکـه چـې د دهٔ تقوٰی، بزرګي او زهد نه خو هغه ډېره ښه واقفه وه.

د خـدای کـړه ؤ یـوه ورځ زاهـد بهـر وتلـی ؤ. پـه واپسـې کښـې چـې د کـور دروازې تـه را ورسـېدو نـو دهٔ د تمبـې پـه چـاودونو کښـې خپلـه کـورودانۍ ولیـده چـې د غنمـو وړه یـې پـه تـروړه کښـې واچـول. او د دهٔ د نظرونـو نـه یـې د پنـاه کولـو دپـاره پـه ډېـر پټ ځـای کښـې کښېښـودل. زاهـد دا هرڅـه ولیـدل او بیـا د اخ ټـوخي نـه پـس پـه دروازه راننـوت او داسـې یـې وګمارلـه چـې دهٔ هـڅو څـهٔ لیـدلي نـهٔ وي. ښـځې چـې دی ولیـد نـو تندی یې تریو کړ. وربوز یې کوږ کړو او په ډېر قهرېدلي انداز یې وویل:

"بـزرګ صـېب راغلـې. د کـور درسـره څـه غـم شـته کـه نـهٔ؟. نـن څـو یمـه ورځ ده چـې پـه کهالـهٔ کښـې د وړو دوړه نـهٔ شـته. زهٔ بـه تـر څـو پـه پـردو کورونـو کښـې لـوغېږم. مـزدوري بـه کـوم. او تـا تـه بـه یـې تیـاره راوړم. پاڅـه! ورشـه او اوړه راوړه. چې ټیکاله ترې پخه کړم.

زاهـد مسـکی شـو. او بیـا یـې ډېـر پـه اعتمـاد وویـل: "زهٔ بـزرګ یـم. بـزرګ.... او بزرګان د دنیا نه بې نیازه وي.

بزرګ! د وچې بزرګ، ښځې یې پرې د طنز غشي ورواورول.

هـم دغـه وخـت ؤ چـې زاهـد را پاسـېد ، سـترګې یـې ورانـې کـړې، پـه جلالـي اواز کښـې یـې وویـل: "ښـځې د بزرګـانو سره مـه چېـړه. زمـا نظر ګـورې! د کـوهِ قـاف نـه هـم آ پلـه لګـي. تـه زمـا نـه پټـې پنـاه نـهٔ شـې کـولای. او بیـا پـه خپـل کـور کښـې...... ورشـه لـږه شـېبه وړانـدې چـې د غنمـو کـوم اوړه چـې دې پـټ کـړل. هغـه را بهـر کـړه او کهالهٔ کښې یې پکار راوله".

د دې انکشـاف سـره د زاهـد ښـځه اکـه پکـه او حیرانـه شـوه د خاونـد پـه بزرګـۍ یـې پـوره یقـین پیـدا شـو. او بیـا د دغـې واقعـې تفصـیلات د نـور اضـافو سره و چـم ګاونـډ د ښـځو پـه ذریعـه هـر ځـای تـه ورسـېده. د څـه پـه نتیجـه کښـې چـې بـه اوس هـر وخـت د زاهـد کـور تـه د زنـانو یـو بهیـر راروان ؤ. عـن تـر دې چـې د بادشـاه ښـځه د زاهـد د بزرګـۍ نـه خبـره شـوه. هغـې د ازمېښـت پـه توګـه زاهـد را وغوښـت او پـه خپـل لاس کښـې یـې یـو "ملـخ" پـټ ونیـو. زاهـد تـه یـې وویـل چـې وایـه! زما په لاس کښې څه دي؟.

اتفاقـاً د دغـه زاهـد خپـل نـوم "ملخـی" ؤ. هغـه خـو بنـاوټي او خـود سـاخته بـزرګ ؤ. غریـب د دې نـه څـه خبـر ؤ چـې د بادشـاه د ښـځې پـه لاس کښـې څـهٔ دي.

ډېر وارخطا او پرېشانه شو. د ځان سره يې وويل: "ملخيه! ګير خو ګير شوې. ولې اوس به خلاصيږې څنګه؟. او له دې وينا سره سم د بادشاه ښځې خپل لاس پرانستو او ملخ يې ازاد کړو. د زاهد لاس يې ښکل کړل او د بې ادبۍ بخښنه يې وغوښته. د دې واقعې نه پس د "ملخي" د بزرګۍ بازار نور هم ګرم شو. دنيا پرې را واوړېدله. ډېرې ورځې لاتېرې نۀ وې چې د بادشاه د لور يو قېمتي هار چا پټ کړو. بادشاه پسې ډېر لغم او لټون وکړو. ولې هار پيدا نۀ شو. ناګهانه بادشاه ته خپلې ښځې د زاهد د خدماتو حاصلولو مشوره ورکړه. بادشاه فوراً زاهد راوغوښت او ورته يې وويل چې: "دغه هار راپيدا کړه. په زاهد يو ځل بيا د مصيبت غدۍ راپرېوته. بادشاه ته يې وويل چې: "ما له د ابادۍ نه بهر يوه ځان له کمره راکړه، نن شپه کښې به زۀ د خپل روحاني قوت په زور دغه هار را پيدا کړم. خيال يې دا ؤ چې شومه دم شي نو د ملك نه به تېښته کوي. ګنې بادشاه به دې ژوندی پرې نۀ ږدي.

زاهد ته د ابادۍ نه بهر يوائې کمره ورکړې شوه او دا خبره په ملك کښې خوره کړې شوه چې بزرګ به نن شپه پټ شوی هار را پيدا کوي. بل طرف ته زاهد په ډېر ذهني کش مکش او قلبي کرب اخته ؤ. خوب نۀ ورتلو. فکر يې کاوۀ چې څنګه به تښتي. په کومه لار به ځي او چرته به د سکون ساه اخلي. هغه په دې سوچونو کښې ډوب ؤ چې شپه پخه شوه نو زاهد ځان تښتې ته تياروو چې دې کښې يوه بوډۍ په ژړا انګولا را ورسېده. ويل يې چې يه! بزرګ صېب! غرقه مې نۀ کړې. تباه مې نۀ کړې. دا خطا ما کړې ده. د شهزادګۍ هار ما پټ کړی دی. ها واخله، هار دا دی خو چې ما برباده نۀ کړې.

"ملخي" په سپلمۍ کښې ګبين وموندو، بوډۍ ته يې ويل چې ايله په وخت را ورسېدې کۀ لږ هم ناوخته شوې وای نو اوس به سکروټه شوې وای. اوس څه هار ما ته وسپاره. زۀ پوه شه او زما کار، ستا د سر د سلامتيا ضامن زۀ يم. تا ته هېڅ څوك څه نۀ شي ويلی. ځکه چې زۀ به ستا نامه چرته هم بې نقابه نۀ کړم. خو چې ائينده داسې خطا چرته په هېره هم و نۀ کړې. ملخي ترې هار راواخيست. او بوډۍ لاړه.

اوس د هغــه د خوشــحالۍ انتهــا نــهٔ وه. پــه کــټ کښــې نېــغ ناســت ؤ. پــه دې طمع چې کله بـه سـحر کېږي. عـن چې سـهار شـو، بادشـاه تـه حاضر شـو. عـرض يې وکـړو چې هـار برآمـد شـوی دی خـو بادشـاه تـه بـه پـه يـوه شـرط ملاويـږي. او هغـه دا چې د غلـهٔ سر تـه بـه امـن وي. او نـهٔ بـه هغـه بې نقابـه کـولی شي. بادشاه شرط ومنـو او چې ملخـي بادشـاه تـه هـار وسـپارو. نـو بادشـاه حـق دق شـو. د ملخـي پـه پښـو کښـې يې سر کېښـود. بيـا يې د هغـهٔ لاسـونه ښـکل کـړل. د ځـان سـره يې تـر څنگـه کښېـنوو. او فـوراً يـې فرمـان جـاري کـړو چـې د شـاهي جومـات د امامـت پټکـی د نـن نـه پـس زهٔ د دهٔ پـه سـر ږدم. د نـن نـه بـه د شـاهي جومـات د امامـت فـرايض دی ترسـره کـوي او لـه دې فرمانـه سـره د ملخـي د پښـو نـه زمکـه وتښـتېده. ځکـه چې هغـه خو عـالم نـهٔ ؤ. لمـونځ يې پـه قـل هـو، الحمـد کـولای شـو. خـو د بادشـاه حکـم ؤ. چـار و ناچـار يـې د شـاهي جمـات د امامـت پگـړۍ پـه سـر کـړه. د ماپښـين او مـازيگر مونځونـه خـو يې پـه پټـه خولـهٔ وکـړل ولـې کلـه چې د ماښـام لمانځـهٔ تـه مخکښـې شـو، نـو پـه جـار يې سـورة فاتحـه ولوسـته ولـې اوس مصيبت دا ؤ چې بـل سـورة ورلـه نـهٔ ورتلـو. ملخـي خپلـه گسـه پښـڅـه راکښـله ټولـو مقتـديانو خپلې گسـې گسـې پښځـې راکښـلې بيـا ملخـي خپلـه ښـۍ پښځـه راکښـله او پـه اقتـداء کښې يې مقتـديانو هـم دغسـې وکـړل. دې نـه پـس ملخـي د جومـات نـه را منـډه کـړه او مقتـديانو ورسـره هـم د جومـات نـه بهـر را منـډې کـړې. څنگـه چې ټـول لمـونځ گـزار د جومـات نـه را بهـر شـول نـو درز شـو چې د جومـات چـت راپرېـوت. خلکـو شـکرونه وايسـتل چې د "ملخـي" د کرامـاتو پـه وجـه هغـوئ د مـرگ نـه بـچ شـول. کلـه چې دغـه خبـره شـاهي دربـار تـه ورسـېده نـو د ملخـي د بزرگـۍ يقـين د بادشـاه سـلامت پـه زړهٔ کښې نـور هـم واثق شـو. د هغـه مخې لـه پـه خپلـه لاړ. قـدم بوسـي يې وکـړه. نېـغ يـې دربـار تـه راوسـت، د خپـل وزارت پـه عهـده يـې ونمانځـهٔ. ډېـر خطابـات او القابـات يـې ورتـه ورکـړل. او دا شـان "ملخـی" محـض د اتفاقـاتو پـه بنيـاد د لـويې ورځې خاونـد شـو. ولـې پـه حقيقت کښې نـهٔ خـو هغـه د تزکيـه نفـس د مرحلـو نـه پـه عملـي توگـه تېـر شـوی ؤ او نـهٔ د روحانيـت نـه اگـاه ؤ. هغـهٔ چې د زهـد و تقـوٰی کومـه څـرمن ظـاهراً پـه خپـل ځـان راخـوره کـړې وه باطنـاً هغـه د بزرگـۍ او پرهېزگارۍ د حقيقت نه عاري وه.

د دې پورتــه اوږدې اولســي قصــې د بيــان نــه پــس اوس کــه ځــوك د خوشــحال بابـا دغـه ذکـر شـوی تلميحـاتي شـعر لـولي. نـو هغـه بـه ډېـر پـه اسـانه د دې شـعر د معنـا وېـخ تـه رسـي. پـه مفهـوم بـه يـې پـوهېږي. او د تشـريح پـه لاړ کښـې بـه ورتـه څـه کړکېچ يا ګراني نۀ پېښېږي.

❁❁❁

# حوالې


(۱) ختک، خوشحال خان، کلیات خوشحال ختک، مقدمه و حواشي، دوست محمد خان کامل مومند، ناشر ادارِه اشاعت سرحد پېښور، مطبوعه منظور عام پریس پېښور، دویم چاپ، دسمبر 1960ء. مخ 400.

(2) امام دمېري رح، حیات الحیوان، (جلد اول) لاهور، پاکستان، مخ 562، 563.

(3) قرآن مجید، سورة اعراف، 7/ 133، سورة القمر، 54/ ۷.

(4) امام دمېري رح، حیات الحیوان (جلد اول)، مخ 561، ج ا.

(5) امام قرطبي، تفسیر قرطبي، (جلد اووم) ناصر خسرو ایران، مخ 269.

(6) محمد بن احمد، المستطرف فی کل فن المستطرف، (جلد دویم) بېروت لبنان، مخ 231.

(۷) عبدالسلام، شیخ، تفسیر احسن الکلام، پېښور، (درېیمه برخه) مخ 395.

(۸) المنجد (اردو، عربي) لغت، کراچۍ، جولایي 1975ء مخ 932.

(۹) العقیلي، شیخ، سعود، منحهج البلاغه، الریاض، مخ 206، 207ت.

(10) الهاشمي، السید احمد، جواهر البلاغه فی المعاني والبیان والبدیع، بېروت لبنان، مخ 340.

(11) محمد نجم الغني، مولوي، بحرالفصاحت، لاهور، 1989ء، مخ 11، 13.